هفته نامه آبادی
آبادي اوونیزه
ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۱۱ | مسلسل نمبر: ۵۴

شنبه، د ذوالحجې ۱۸مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال



## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په غور کې د سیلاب ځپلو لپاره د ښارګوټي د جوړېدو د بنسټ ډبره کېښوده



۱ صفحه

## د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت میاشتنۍ (آبادي) نهمه ګڼه چاپ شوه



۴ مه صفحه

## افغانســـتان؛ د پانګونې په برخه کې رامنځته شوي فرصتونه



۵ مه صفحه



# سرلیکنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳لمریز کال د غبرګولي میاشتې په وروستیو کې غور ولایت ته سفر وکړ. محترم حاجي ملا صاحب د نیکمرغه لوی اختر لمونځ د غور په مرکز فیروزکوه کې له سیلاب ځپلو سره یو ځای اداء کړ. د خپل سفر پرمهال یې د یاد ولایت له مسوولینو، سیلاب ځپلو خلکو او د دیني مدرسو له استادانو سره د کتنې ترڅنګ په غور لایت کې د مرسته رسوونکو ادارو او بنسټونو، د ټاکل شویو کمېټو کارونه وارزول او له نږدې یې د سیلاب ځپلو هېوادوالو ستونزې واورېدې. دغه راز یې په دې ولایت کې د سیلاب ځپلو له پاره د یوه ښارګوټي د بنسټ ډبره هم کېښوده.

په افغانستان کې د روان لمریز کال په لومړیو کې د اوربښتونو له امله د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې سخت سیلابونه راووتل. خو تر ټولو ډېر ځاني او مالي زیان یې چې واړاوه، هغه د هېواد په شمال کې د بغلان او بدخشان او په لویدیځ کې د غور او هرات ولایتونه وو. په دې ولایتونو کې د راوتلو سیلابونو له امله لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته، سلګونه کورونه یا خو په بشپړ ډول او یا قسماً ویجاړ، پلونه، پلګوتي او سړکونه سیلابونو خراب، زرګونه جریبه کرنیزې ځمکې تر اوبو لاندې او یو زیات شمېر څاروي له منځه ولاړل.

د سیلابونو د مدیریت لارې چارې شته که چېرې د سیلابونو د اوبو زېرمه کولو له پاره طبیعي ډنډونه، لوی او کوچنې بندونه او استنادي دیوالونه جوړ شي، نو د زیان کچه یې راټیټېږي. اسلامي امارت په دې برخه کې ګامونه پورته کړي دي، د هېواد په کچه یې د سترو، متوسطو او کوچنیو بندونو ترڅنګ د کانالونو د ایستلو چارې پیل کړې او په زیاترو هغو سیمو کې چې د سیلابونو خطر یې لوړ دی، استنادي دېوالونه جوړ کړي دي. ولې له دې سره سره په ځینو ولایتونو کې تېر کال او سږ کال سیلابونو خلکو ته ځاني او مالي زیانونه واړول.

اسلامي امارت د یوه مسوول او ژمن حکومت په توګه د هېواد سیلاب ځپلو وګړو ته پر وخت رسیده‌ګې کړې او د دوی لاسنیوی یې کړی دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لومړی بغلان او دادی اوس یې غور لایت ته سفر وکړ او هلته یې له سیلاب ځپلو خلکو سره وکتل او هم یې د سیلابونو له امله زیانمنې سیمې له نږدې وکتلې. محترم حاجي ملا صاحب د غور پر سیلاب ځپلو خلکو لسګونه میلیونه افغانۍ ووېشلې، د سیلاب ځپلو له پاره یې د ښارګوټي د بنسټ ډبره کېښوده او هم یې د لوی اختر لمونځ د همدې ولایت په مرکز فیروزکوه کې له سیلاب ځپلو سره یوځای اداء کړ. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د لوی اختر د لمانځه پرمهال په خپله وینا کې ووېل چې دده په ګډون د اسلامي امارت ټول مسوولین هڅه کوي چې زیانمنو هېوادوالو ته مرستې برابرې او د هغوی ستونزو ته پای ورکړي. له دې څخه جوته شوه، چې اسلامي امارت هېڅ وخت او په هېڅ حالت کې خپل هېوادوال له یاده نه باسي او تل یې ترڅنګ ولاړ دی.

هفته نامه آبادی
د آبادۍ اوونیزه
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ABAADI ONLINE WEEKLY

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په غور کې د سیلاب ځپلو لپاره د ښارګوټي د جوړېدو بنسټ ډبره کېښوده



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د روان لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۲۷مه نېټه په غور ولایت کې د ۲۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو لپاره د یوه هستوګنیز ښارګوټي د جوړېدو د بنسټ ډبره کېښوده.

د دغه ښارګوټي د جوړېدو چارو د پرانیستې په مراسمو کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت تل د هېوادوالو د ستونزو د حل په فکر کې دی او دوی ته په هره برخه کې د ښو خدماتو د وړاندې کولو لپاره هڅې کوي، چې ښه بېلګه یې د دې ښارګوټي د عملي چارو پیل دی.

د ښارګوټي په ساختماني پلان کې پر ۲۰۰ هستوګنیزو کورونو سربېره مسجد، روغتیایي مرکز، ښوونځی، مدرسه، د اوبو رسولو شبکه او برېښنا شامل دي چې د اسلامي امارت له لورې رغول کېږي.

د یادونې وړه ده، چې د ښارګوټي له تکمیلېدو سره سم به هرې سیلاب ځپلې کورنۍ ته یو هستوګنیز کور په واک کې ورکړل شي.

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند با مردم آسیب دیده از اثر سیلاب های اخیر در ولایت غور دیدار نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء بتاریخ ۲۵ام جوزا سال ۱۴۰۳ خورشیدی در سفرش به ولایت غور با مردم اسیب دیده از اثر سیلاب های اخیر و مسؤلین این ولایت دیدار نموده، به آنها تسلیت گفت. محترم حاجی ملا صاحب در جریان سخنرانی خود گفت که سیلاب های اخیر در کشور خسارات جانی و مالی زیادی را به هموطنان در ولایات مختلف وارد کرده است. بسیاری از خانواده ها از خانه و کاشانه خود آواره شدند، زمین های زراعتی زیر آب شد، پل ها، پلچک ها، و سرک ها ویران شده و به همین علت هموطنان به مشکلات گونا گون مواجه شدند اما امارت اسلامی به موقع به مردم سیلاب زده رسیده گی نمود. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود ما نسبت به این فاجعه ابراز تآسف می نمایم. امارت اسلامی در این غم بزرگ با شما شهروندان عزیز خود را شریک میداند. محترم حاجی ملا صاحب، پیش از این ده ها تن مواد خوراکی، دواء و البسه را به این ولایت فرستاده بود و علاوه بر آن اکنون ده ها میلیون افغانی پول نقد نیز به شهروندان اسیب دیده این ولایت کمک نمود. معاون اقتصادی ریاست الوزراء به مردم ولایت غور گفت: «به تمام مسؤلین امارتی هدایت داده ایم که کمک ها را جمع اوری و به طور شفاف به هموطنان مستحق و اسیب پذیر توزیع نمایند و همچنان کمیته فوق العاده نیز گماشته ایم که شبانه روز کار می کند.» معاون اقتصادی ریاست الوزراء طی سخنان به این جلسه گفت، از تمامی شهروندان و هموطنان که در حد توان خود به مردم سیلاب زده کمک کرده اند سپاس و قدردانی می نمایم و از خداوند متعال برای شان اجر جزیل می خواهیم.

در اخیر محترم حاجی ملا صاحب به مردم غور اطمینان داد که امارت اسلامی تا حل مشکلات موجود و بازگشت زنده گی به روال عادی در کنار شما ایستاده است.

هفته نامه آبادی
د آبادۍ اوونیزه
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ABAADI ONLINE WEEKLY

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د لوی اختر لمونځ د غور ولایت په مرکز فیروزکوه کې له سیلاب ځپلو سره یوځای اداء کړ



د ریاست الوزرأء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۲۸مه نېټه د غور ولایت په مرکز فیرز کوه کې له سیلاب ځپلو هېوادوالو سره د نېکمرغه لوی اختر لمونځ یوځای اداء کړ.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د لوی اختر د لمانځه پرمهال په خپله وینا کې عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله، مجاهدینو، د خپلواکۍ د لارې د شهیدانو کورنیو، هېوادوالو او ټول اسلامي امت ته د نېکمرغه لوی اختر مبارکي ووېله او د اسلامي امت د یووالي او اتحاد هیله یې څرګنده کړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې وویل، چې د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د اسلامي امارت مسوولینو ته هدایت کړی چې د هغو هېوادوالو لاسنیوی دې وکړي چې په دې وروستیو کې د سېلابونو له امله ځاني او مالي زیانونه ورته اوښتي دي. محترم حاجي ملا صاحب زیاته کړه، چې دده په ګډون د اسلامي امارت ټول مسوولین هڅه کوي چې زیانمنو هېوادوالو ته مرستې برابرې او د هغوی ستونزو ته پای ورکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر آخوند غور ولایت ته د خپل سفر اصلي موخه د مرسته رسوونکو او ژغورونکو ادارو او بنسټونو ترمنځ د لا ښې همغږۍ رامنځته کول، د ټاکل شویو کمېټو له کارونو ارزونه او له نږدې د سېلاب ځپلو هېوادوالو د ستونزو اورېدل وبلل او ویې ویل چې د خپل سفر پرمهال یې له ولایتي مسوولینو، علماوو، قومي مخورو او د بېلا بېلو ولسوالیو له سېلاب ځپلو سره ناستې کړې، د دوی ستونزې یې اورېدلې او زیانمنې سیمې یې له نږدې کتلې دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد په مختلفو برخو کې د سترو او ملي پروژو پیل ته په اشارې سره وویل چې ددې پروژو څخه یوه هم د ختیځ- لویدیځ دهلېز د سړک جوړونې پروژه ده. ددې پروژې په بشپړېدو سره به هرات، غور، بامیان، دایکندي او میدان وردګ ولایتونه له کابل سره ونښلول شي. ددې پروژې یوه برخه د هرات- غور سړک دی چې څه موده وړاندې یې د عملي چارو د پیل پرانیسته وشوه.

په پای کې محترم حاجي ملا صاحب یوځل بیا د غور ولسونو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت یې تر هغه پورې په څنګ کې ولاړ دی چې ستونزې یې په بشپړ ډول حل شي.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د غور ولایت چهار صدې ولسوالۍ له سېلاب‌ځپلو سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند غور ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د غبرګولي میاشتې په ۲۶مه نېټه د چهار صدې ولسوالۍ ته سفر وکړ او هلته یې سېلاب‌ځپلي هېوادوال او هغوی ته اوښتي زیانونه له نږدې وکتل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یادې ولسوالۍ ته له رسېدو وروسته لومړی د شهیدانو روح ته دعا وکړه، زیانمن شوو هېوادوالو ته یې تسلیت وړاندې کړ او ځان یې د هغوی په غم کې شریک وباله. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د چهار صدې ولسوالۍ اوسېدونکو ته وویل: «زموږ د راتګ موخه یوازې دا نه ده چې تاسې ته تسلیت ووایو، بلکې تاسې ته ډاډ درکوو چې اسلامي امارت مو تر هغه وخته پورې لاس نیوی کوي، چې شته ستونزې مو حل او ژوند مو عادي حالت ته را وګرځي.» همدارنګه محترم حاجي ملا صاحب د دې ولسوالۍ د اوسېدونکو ستونزو ته د رسېدنې لپاره د ټاکل شوې کمېټې کړنې له نږدې وکتلې او دوی ته یې د کارونو نښه ترسراوې په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

د غونډې په پای کې د چهار صدې ولسوالۍ سېلاب‌ځپلو له اسلامي امارت څخه مننه وکړه، چې په وخت یې دوی ته د نجات ټیمونه ولېږل او په سېلاب کې بند پاتې هېوادوال یې وژغورل. همدارز د یادې ولسوالۍ اوسېدونکو خپلې ستونزې او غوښتنې په لیکلې بڼه د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره شریکې کړې او هغه یې د حل ډاډ ورکړ.

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با علماء، استادان و شیوخ مدارس دینی ولایت غور دیدار نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در سفر خویش به ولایت غور با علماء، استادان و شیوخ مدارس دینی این ولایت دیدار نمود.

این جلسه که به تاریخ ۲۷ام جوزا سال روان خورشیدی در مقام ولایت غور تدویر گردیده بود، علماء، استادان و شیوخ مدارس دینی این ولایت اشتراک ورزیده بودند.

علماء و استادان مدارس دینی ولایت غور حین صحبت ها خویش از حاکمیت نظام اسلامی در کشور، تامین امنیت سرتاسری، دستاوردهای امارت اسلامی در عرصه های مختلف و رفتار نیک مسؤلین امارت اسلامی با شهروندان ابراز خورسندی نمودند.

آنان همچنان از ارسال به موقع تیم های امداد رسان و کمک های اضطراری امارت اسلامی به مناطق اسیب دیده قدردانی نمود و در برخی موارد مشکلات موجود و خواسته های خود را با معاون اقتصادی ریاست الوزراء شریک ساختند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء طی سخنان خود گفت که بر اثر سیلاب های اخیر در ولایت غور به بسیاری از مردم این ولایت زیان های جانی و مالی سنگین وارد گردیده اند. ما از این حادثه الناک متاسفیم، برای شهداء جنت الفردوس، به بازماندگان صبر جمیل و برای زخمیان شفای عاجل از بارگاه خداوند متعال استدعا می نمایم.

محترم حاجی ملا صاحب در اخیر گفت که امارت اسلامی افغانستان از تمامی امکانات موجود برای کمک به مردم آسیب دیده استفاده کرده است. وزارتخانه ها و ادارات زیربط تمامی تلاش های خود را به خرچ میدهد که به آنان کمک نماید تا به مشکلات مردم اسیب دیده به موقع رسیده گی شود.

# د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت میاشتنۍ (آبادي) نهمه ګڼه چاپ شوه




په دې ګڼه کې د اقتصادي معاونیت له لوري په بېلابېلو برخو کې د ترسره شوو فعالیتونو په اړه راپورونه خپاره شوي. ابادي میاشتنۍ د موضوعاتو له مخې اساساً څلور برخې لري. په لومړۍ برخه کې د ملي تدارکاتو کمېسیون، اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې او د پانګونې بین الوزارتي کمېټې د غونډو، په دوهمه برخه کې د لویو پروژو د پرانیستې او مهمو کنفرانسونو کې د اقتصادي مرستیال د ګډون، په دریمه برخه کې له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د کورنیو او بهرنیو استازو د لیدنو او همدارنګه د محترم حاجي ملا صاحب د کورنیو سفرونو خبرونه او راپورونه او په څلورمه برخه کې د مهمو اقتصادي موضوعاتو په اړه مقالې خپرې شوې دي. د مجلې په وروستۍ برخه کې د مهمو اقتصادي موضوعاتو په اړه د لیکل شویو مقالو غورچاڼ په انګلیسي ژبه راوړل شوی دی.

هفته نامه آبادی اوونیزه
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ABAADI ONLINE WEEKLY





# افغانستان؛ د پانګونې په برخه کې رامنځته شوې فرصتونه

لیکوال: امان‌الله «حنیفي»

## سریزه

د اسلامي امارت په راتګ سره افغانستان د پانګونې لپاره په یو مناسب او مأمون هېواد بدل شوی دی. په افغانستان کې د پانګونې زمینې په برابرېدو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیو پانګوالو ته هم فرصت برابر شوی چې دلته د برېښنا، کانونو، کرنې، ترانسپورټ، زېربناوو، ټکنالوژۍ، روغتیا او یوشمېر نورو سکټورونو کې پانګونې وکړي. دلته د پانګوالو لپاره ډېر سهولتونه، د پانګونې اسانه قوانین، د بیوروکراسۍ مخنیوی، د پانګوالو ملاتړې حکومت، د پانګوالو سرتاسري امنیت او د پانګونې لپاره یو معلوم ادرس رامنځته شوی، چې د پانګونې پروسې یې را لنډې او د ټولو ادارو او پانګوالو ترمنځ یې د همغږۍ یو منظم سیستم جوړ کړی دی.

مونږ په همدې مقاله کې د اسلامي امارت له لوري د پانګوالو لپاره د رامنځته شوو سهولتونو او ورکړل شوو امتیازونو په اړه لنډې خبرې کوو.

## د پانګونې لپاره مناسب چاپېریال

د افغانستان اقتصاد په تېرو څو لسیزو کې د اشغال او جګړو، سیاسي او امنیتي بې ثباتۍ له امله ډېره صدمه لیدلې ده. په دغه برخه کې هېڅ اساسي او بنیادي کار نه دی ترسره شوی، چې له امله یې په میلیونونو هېوادوال نورو هېوادونو ته کډوال شوي او د همدې ناکراریو له وجې د هېواد ډېری پانګه بهر ته وتلې او نورو ملتونو ترې د خپلې هوساینې په موخه استفاده کړې، چې بېلګه یې په ایران کې د افغان پانګوالو پانګونه ده .

خو لله الحمد، د اسلامي امارت په بیاځلې راتګ سره په ټول هېواد کې د پانګونې زمینه برابره شوې. امنیت چې د پانګونې او پانګوالو لپاره تر ټولو لومړی او اساسي شرط دی، له نېکه‌مرغه په ټول هېواد کې تأمین شوی دی. اسلامي امارت د پانګوالو د سر او مال امنیت خوندي کړی او دوی کولی شي د هېواد په مختلفو برخو کې په پوره ډاډ او اطمینان سره پانګونه وکړي.

فساد له منځه تللی او بیروکراسي ختمه شوې ده. د کابل تېرې اداري پر مهال ډېری کورني پانګوال له دې وجې له هېواده وتلي او یا هم بهرنیو پانګوالو دلته پانګونې ته زړه نه دی ښه کړی، چې د مسوولو فاسدو چارواکو له لوري ترې په یو او بل نوم باج اخیستل کېده. ډېری وخت یې د بیروکراسۍ له وجې کارونه ځنډېدل او له همدې وجې نور دوی دلته پانګونې ته زړه نه ښه کاوه. خو اسلامي امارت بیا دا بدې پدیدې ختمې کړې دي.

زورواکي ختمه شوې. د اسلامي امارت له راتګ وړاندې د کابل تېرې اداري پر مهال ډېری وخت د سیمه‌ییزو زورواکانو له لوري پر یو کان د پانګونې او یا هم په هغه سیمه کې د یوې تطبیق کېدونکې پروژې په بدل کې له پانګوال پیسې اخیستل کېدې، چې دې چارې په مختلفو سکټورونو کې د میلیاردونو ډالرو په ارزښت د پانګونې مخه نیولې وه. خو اوسمهال افغانستان د پانګوالو د یو ملاتړي نظام څښتن دی، په هر اړخیز ډول یې ملاتړ کوي او د زورواکۍ ریښې ایستل شوې دي.

## د پانګوالو لپاره رامنځته شوي سهولتونه

پانګوالو ته د اسانتیاوو برابرولو په موخه په کابل نړیوال هوایي ډګر کې د پانګونې واحد مرکز جوړ شوی دی. دغه مرکز په ډېر لنډ وخت کې پانګوالو ته د پاسپورټ او ویزې خدمات وړاندې کوي، د کار او نور اړوند جوازونه ورکوي، د دوی طرحې په یوځای طی مراحل کوي او د معلومو ادرسونو د موندلو او د دوی د وړاندې شوو طرحو د اقتصادي، مالي او تخنیکي ارزونو په موخه یې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته لاربنوونه کوي.

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ځانګړي فرمان پر اساس پانګوالو ته د لازمو آسانتیاوو برابرولو په موخه د اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې رامنځته شوې . د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټه د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب د بهیر چټکتیا، د پانګونې د طرحو په طی‌مراحلو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو ترمنځ د همغږۍ، د پانګونې پروسو کې د چټکتیا او روڼتیا رامنځته کولو او په افغانستان کې د پانګونې پروژو په اړه پانګوالو ته د لازمو معلوماتو چمتو کولو په موخه جوړه شوې ده. په دغه کمېټه کې د مختلفو سکټوري وزارتونو او ادارو تخنیکي او مسلکي استازي حضور




د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ABAADI ONLINE WEEKLY
هفته نامه آبادی
اوونيزه




لري، چې په منظم ډول د وړاندې شوو طرحو ارزونه کوي.

د دې کمېټې د کاري فعاليت له پيل سره سم اوسمهال سلګونه کورني او بهرني پانګوال خپلې طرحې مستقيماً دغې کمېټې ته وړاندې کوي، چې تر دې دمه يې لسګونه طرحې په لنډ وخت کې له اړوندو وزارتونو او ادارو سره په ګډه طي مراحل کړې او عملاً يې د پانګونې چارې پيل شوې دي.

د افغانستان اسلامي امارت له لوري پانګوالو ته د اسانتياوو برابرولو او د هغوی د ملاتړ په موخه ټولو هغو پانګوالو ته چې غواړي په افغانستان کې پانګونه وکړي او يا له نورو هېوادونو څخه خپله پانګه افغانستان ته انتقال کړي، هغوی ته په صنعتي پارکونو کې تر مطلوب وخت پورې د دوی له غوښتنې سره سم ځمکې ورکوي او د دې تر څنګ تر پنځو کلونو پورې ورته هر ډول ماليات معاف دي .

د دې ترڅنګ د ټولو پانګوالو د مسلکي کار کوونکو، ماشينرۍ او خامو موادو په برخو کې چې له بهرنيو هېوادونو يې واردوي، ځانګړې اسانتياوې ورته په نظر کې نيول شوې دي او هېڅ راز ګمرکي او وارداتي محدوديتونه پرې نشته.

د پانګونې پر مټ د توليد شوو توليداتو لپاره د بازارموندنې په موخه د اسلامي امارت په هراړخيز ملاتړ ملي او نړيوال نندارتونونه جوړېږي، چې په تېر ۱۴۰۲ او روان ۱۴۰۳ لمريز کال کې يې په کور دننه او بهر کې د يوشمېر لويو نندارتونونو جوړېدل ښې بېلګې دي. په دغو نندارتونونو کې شاوخوا ۴۵۰۰ صنعتکارانو خپل توليدات نندارې ته وړاندې کړي وو، چې د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شول.

د پانګوالو لپاره د ځانګړو تشويقي کڅوړو له مخې په کور دننه موجود خام مواد وړاندې کېږي. هغه پانګوال چې په افغانستان کې پانګونه کوي، کولی شي له اړوندو ادارو سره په همغږۍ د دوی د اړتيا وړ خام مواد د ځانګړو کڅوړو له لارې ترلاسه کړي.

ځوان، وړ او ارزانه کاري ځواک بل هغه امتياز دی، چې پانګوال يې په افغانستان کې په پانګونې سره ترلاسه کولی شي. د افغانستان ډېری کاري قشر ځوان دی، چې په مختلفو برخو کې د ښه کار کولو وړتيا لري.

د مزد کچې کموالی بل هغه امتياز دی، چې په افغانستان کې په پانګونې سره ترلاسه کېدلی شي.  په اجوره يا مزد کې د دولت نه لاسوهنه پانګوال په يوه هېواد کې پانګونې ته هڅوي او دا چاره د پانګې د جلب پر پروسه مثبت اغېز لري.

د سوداګرۍ او کاروبار کم لګښتونه، د سيمه ييز اتصال له لارې نړيوالو بازارونو ته اسانه لاسرسی، دوه اړخيز او څو اړخيز سوداګريز تړونونه، د سوداګرۍ له پاره پراخ چاپيريال، د کمو سيالانو په شتون کې ناکارول شوی بازار، د سوداګرۍ په نړيوال سازمان کې غړيتوب، د سوداګريزو شخړو د هواري مرکز، د پانګونې اسان قوانين او په زړه پورې مالياتي کڅوړې نور هغه سهولتونه او امتيازونه دي، چې د اسلامي امارت له لوري د پانګوالو د ملاتړ په پار رامنځته شوي دي.

## پايله

د اسلامي امارت له لوري د پانګوالو د ملاتړ او هغوی ته د پانګونې زمينې برابرېدو په هدف د ذکر شوو سهولتونو او امتيازونو په درک کولو سره په مختلفو برخو لکه، برېښنا، اوبو مديريت، کانونو، کرنې، زېربناوو، ترانسپورټ، ټکنالوژۍ، روغتيا او نورو برخو کې د پانګونې زمينه برابره شوې. اسلامي امارت ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته لازمې اسانتياوې برابرې کړې دي او له خپل لوري د بشپړ ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکوي.

د همدې فرصتونو په پايله کې تر دې مهاله سلګونو کورنيو او بهرنيو پانګوالو په افغانستان کې په مختلفو برخو کې د لسګونو ميليارد ډالرو په ارزښت پانګونې ته لېوالتيا ښودلې او يوشمېر يې بيا عملاً پانګونه پيل کړې ده، چې ښې بېلګې يې د آمو نفتي حوزه کې د چينايانو، د هرات د اوسپنې، د غور د سرپ او جستو او همدا راز د تخار سمتي سرو زرو کانونو کې د ميلياردونو ډالرو په ارزښت د کورنيو او بهرنيو شرکتونو پانګونه ده. پر دې سربېره سلګونو نورو کورنيو او بهرنيو پانګوالو په مختلفو برخو کې په افغانستان کې پانګونه کړې او د پانګونې دغه کچه ورځ تر بلې زياتېږي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۰,۷۵ | ؋۷۰,۸۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲٤٤ | ؋۲٤٤ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۲۸ | ؋۱,۲۸ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۵,۷۵ | ؋۷۵,۸۱ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۷۹ | ؋۰,۸۰ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۸٤۷ | ؋۸٤۸ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۸۹,۵۱ | ؋۸۹,۵۷ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۸,۸۸ | ؋۱۸,۸۹ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۲٦ | ؋۱۹,۲۸ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۷٤ | ؋۹,۷۵ |